محمد اسحق برکت
ویرجینیا ـ امریکا

۱۶دسمبر ۲۰۰۸

## لـــــــندۍ ـ ۴

وینـــې زمـــا په زړه را اوړي
یاره چې تا د بل په ښنګ کې ووینمه

جــانانـه تا تــه کتــې نه شــــــم
دا ستا له سترګونه حیا ماته رازینه

خلــک له غـم نه امــان غـــواړي
زه هر ګړی شیرینې ستا غم لټومه

چې یــار خپــه وي زه یې پخـــلا کړم
زه چې خپه یم څوک مې نه پخلا کوینه

دزړه زخمـــونه مې تـــازه شــول
په تصور کې مې جانان وګرزیدنه

څــو چې ژوندی یــــم زه بـــه ستا یــم
په بل حرام مې شه د سپین مړوند خوبونه

دا ستــــا زړګــی خـــو زمـــا زړګـــی دی
په خپل زړګي باندې څوک نه کوي ظلمونه

له خپـله ځــانه پــه ما ګــران یــې
زه به دا ستا مینه په زړه کې وساتمه

*******

(نعـــمته ) سترګونه دي جار شعر نه کوربان شم
د شعر ډېــوي دي محفلــو کي ګــر زومـه

ستا په شعرونو چي دجا ستر ګي رڼې   شی
تــرېنـه هېــريږي د دنيا واړه غمــونـــه

سـره جـونګـړه دي په شعر را ته توده کړه
اوس نـه يخـني نـه غريبی احسا سـومـه

ته مجاهد يې ، جهــاد ته کړې، توره ستا ده
د مظلومانو له سنګر نه پر غليم کوې فيرونه

********

زما د زړه ګل او مشهور ګل ( معـروفـي ) دی
له ډېـره خياله زه يې تټـر کي ګـر زومــــه

( آصفه جانه ) خــو ( خليل ) ده بــــيا (مسعودی) ده
چي په پلو کي يې نيولي  ده لاړه دنيا نه

(آصفه جاني ) آرمانونه دي پـــوره شـــه
لاړ لـه دنيا نه آرمانجن مه شي مينـــــــي

زړه دي خـــو يـــار سره بنــــــدي دی
دا مي پيغام دي چي پرې ونکړي ظلمونه

کـه خير کـاوه آشنا بـه ببرته درته راشي
چي ورتــه جـوړ کړې د چـرګانو پو لا وونه

********

راځئ انټرنيټ کي د ( وحـدت ) جوړه مېله کړو
يو به لنډی بل به سندرې، ځوک  به د ميني او وروری دريا وهينه

## يادوني :

ځرنګه چي زماله لنډيو سره ډېره مينه ده اوډېر مي خوښيږي نو اړين اولازم ګڼم چي يو ځلي بيا په درناوی سره يادونه وکړم چي لـــنـدی (دوبيتيهای مردمی وعاميانه ) دهيڅ چا مال ندی او هيڅ شاعرپه هغه باندې دعوا نه شي کولای او دهغه دويلودپاره هم کوم شعري قواعد ندی وضع شوي. لنډی په سماعي کلاسيک توګه له يوه نسل نه بل نسل تـــه

انتقال مومي او هيڅ څوک اومقام کولای نشي چې دهغه په ويلو بنديز ولګوي اويادهغو دپاره نوي قيودات وضع کړي. يوځلې چې د چـــا له خولې ووزي او يا دقلم لاس ته ورشي اوبيا دکاغذ په مخ تويې شي او د خلکو غوږونو ته ورسيږي نو د شاعر له تصرف څخه ووزي او د وګړو مال شي. په درناوي